## خبري راپور

## د اسلامي خلافت د نظام په اړه د امت تعامل: "خلافت د اسلام حکومتي نظام دی"

## (ژباړه)

حزب‌التحریر. ولایه سوډان د ۲۰۲۴م کال، د ډسمبر په ۲۳مه د دوشنبې په ورځ د پورټ سوډان د مرکزي بازار په زړه کې د "خلافت د اسلام حکومتي نظام دی" تر سرلیک لاندې یوه سیاسي وینا وکړه. دغه وینا د حزب‌التحریر غړي، استاد یعقوب ابراهیم وړاندې کړه. نوموړي په خپله وینا کې څرګنده کړه چې الله سبحانه وتعالی پر مسلمانانو لازمه کړې چې د اسلام احکام تطبیق کړي او د خپل ژوند په ټولو برخو کې یې په عملي توګه تنظیم کړي. هغه وضاحت ورکړ چې دغه تطبیق د یوه شرعي بیعت له لارې له هغه خلیفه سره کیږي چې دین اقامه کوي او نړۍ ته یې رسوي.

نوموړي د خلافت پر وجوب او د بیا تاسیس لپاره یې د امت د کار کولو پر اړتیا ټینګار وکړ او په دې اړه یې له قرآن او سنتو څو نصوص وړاندې کړل، لکه د الله سبحانه وتعالی دغه قول:

**(وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللهُ إِلَيْكَ فَإِن تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ)** [مائده: ۴۹]

**ژباړه:** *«نو اې محمده صلی الله علیه وسلم! د دوی ترمنځ په هغه څه حکم وکړه چې الله سبحانه وتعالی پر تا نازل کړي دي، د دوی د غوښتنو پیروي مه کوه او پام دې وي چې دغه خلک تا په فتنه کې وانه چوي، له هغه هدایت څخه چې الله سبحانه وتعالی تا ته درلیږلی د یوې ذرې په اندازه دې هم وانه ړوي. نو که دوی مخ ورځخه واړوي وپوهیږه، چې الله سبحانه وتعالی د دوی د ځینو ګناهونو په سبب په مجازاتو د هغوی د اخته کېدو اراده کړې ده او دا حقیقت دی چې له دغو خلکو څخه ډېری یې فاسقان دي.»*

او د عبدالله بن عمر رضي الله عنه حدیث چې بخاري نقل کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»**

**ژباړه:** *څوک چې مړ شي او پر غاړه یې د بیعت کړۍ نه وي، د جاهلیت په مرګ مړ شوی دی.*

نوموړي دا هم په ډاګه کړه چې د نن ورځې حکومتي نظامونه، لکه سیکولر ډیموکراتیک، ملکي یا نظامي دولتونه، له اسلام سره په ټکر کې دي. هغه څرګنده کړه چې دغه ټول نظامونه د استعماري قدرتونو زاړه محصولات دي.

په پای کې، هغه د غونډې له ګډونوالو او ټول اسلامي امت څخه وغوښتل چې د دغه ستر فرض، یعنې د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت د تاسیس لپاره هڅې وکړي.

حاضرینو له دغې وینا سره په قوي او مثبت ډول تعامل وکړ، خپله خوښي، خوشبیني، د تکبیر نعرې او ستاینې یې څرګندې کړې. ځینو خو ان په پای کې غوښتنه وکړه چې دا مهمه وینا دې پای ته نه رسیږي.

ابراهیم عثمان (ابو خلیل)

د حزب‌التحریر.ولایه سوډان مطبوعاتي دفترویاند

۱۴۴۶ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۲۲مه

۲۰۲۴م کال، د ډسمبر۲۴مه

د صدورګڼه: ۳۸/ ۱۴۴۶

ژباړن: اسرارتکل